## اطلاعاتو ته د لاسرسي کمېسیون اوونیزه غونډه

| | |
|---|---|
| نېټه | ۱۳۹۹کال د سلواغې ۲۸مه |
| ځای | اطلاعاتو ته د لاسرسي کمېسیون، کابل، افغانستان |
| د غونډې رییس | ښاغلی عین الدین بهادري د کمېسیون رییس |
| ګډونوال | د کمېسیون مرستیاله آغلې نجیبه مرام ، د کمېسیون غړی ښاغلی حمدالله ارباب، د کمېسیون کمېشنره آغلې زهرا موسوي او د کمېسیون د دارالانشا رییس ښاغلی عصمت الله حیدري. |
| د غونډې تنظیموونکی | آغلې کبریا سادات |

اطلاعاتو ته د لاسرسي کمېسیون اوونیزه غونډه د ۱۳۹۹کال، د سلواغې ۲۸مه، سه شنبه ورځ د پورته ګډونوالو په شتون کې تر سره او په لاندې مواردو بحث او د اندونه تبادله وشو:

1. **د دارالانشا رییس ښاغلي عصمت الله حیدري لخوا د کمېسیون اوونیز راپور وړاندې کول.**
2. **د قیام‌الدین شکایت:** اطلاعاتو ته د لاسرسي کمېسیون د ریاست مقام د هدایت پر بنسټ، د ۱۳۹۹کال د مرغومي ۲۰مه، دوشنبه ورځ؛ د کمېسیون دارالانشا رییس او د بشري سرچینو آمر، اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو خپلواک کمېسیون شکایتونو ته د رسېدنې بورډ سره د قیام الدین شکایت په هکله خبرې وکړې او پایلې یې اطلاعاتو ته د لاسرسي کمېسیون مشرتابه ته ارایه کړې. په پایله کې د کمېسیون غړو پرېکړه وکړه چې د کمېسیون رییس ښاغلی عین الدین بهادري او کمېشنر ښاغلی حمدالله ارباب، د اداري اصلاحاتو کمېسیون کمېشنر یا شکایتونو ته د رسېدنې بورډ رییس ښاغلي بریالي هلمندي سره غونډه تنظیم کړي، ترڅو د ښاغلي قیام الدین شکایت په اړه خبرې اترې او سکالو وروستی کړي.
3. **بالمقطع کارکوونکي:** اطلاعاتو ته د لاسرسي کمېسیون د محدود تشکیل او زیاد کار پر بنسټ اړتیا لري چې د پلان شوي کړنو ترسره کولو او خپل ستراتېژیک پلان پلي کولو لپاره بالمقطع کارکوونکي وګماري. سره له دې چې کمېسیون خپل بشري سرچینې بررسي کړي او د ۲۲ نفرو موافقو وړاندیز (د ۱۳۹۹مالي کال بالمقطع کارکوونکو په ګډون) د ۱۴۰۰ مالي کال لپاره مالیې وزارت ته استولی خو تر اوسه پورې د دې وزارت لیکنۍ موافقه اداري ته نه دی راستولې. په همدې اساس اطلاعاتو ته د لاسرسي کمېسیون د وظیفوي حساسیت په درک د مالي کال په پیل کې اطلاعاتو ته د لاسرسي قانون پلي کولو لپاره د ډېرو رایو په اتفاق پرېکړه وکړه چې د ۱۳۹۹مالي کال د باالمقطع کارکوونکو قرارداد د ۱۴۰۰مالي کال لپاره د ٦ میاشتو په پار تمدید کړي. د مالي او حسابي آمریت، بشري سرچینو آمریت اړتیاوو په اساس د ۱۴۰۰مالي کال بودجې او ۱۴۰۰کال تشکیل لپاره؛ مالي او حسابي آمریت ته یو او بشري سرچینو آمریت د دوه بالمقطع کارکوونکي په عاجل ډول وګمارل شي.

4. **د تراسپورټي خدمتونو قرارداد:** د کمېسیون د چارو عادي پرمخ وړلو لپاره ترانسپورټي خدمتونو ته بنسټیزه اړتیا ده چې تدارکاتي پروسه یې هم مخکې خلاصه شوې او له ګټونکي شرکت سره قرار داد کولو ته تیار دی. سره له دې چې تر اوسه پورې هم د ۱۴۰۰ مالي کال بودجه نه تصویب شوې او کمېسیون هم فعاله نقلیه وسیله نه لري او له بلې خوا څخه د دې اداري کارکوونکي د خدماتي ترانسپورټ نشوالي له امله په دې برخه کې له جدي ستونزو سره مخ ده. پر همدې اساس اطلاعاتو ته د لاسرسي کمېسیون غړې د دې اداري ترانسپورټي ستونزو درک په اساس د ډېرو رایو په رڼا کې داسې پرېکړه وکړه چې له ګټوونکي شرکت سره قرارداد وکړي او هر څومره ژر چې کېږي د اداري د چارو پرمخ وړلو لپاره ترانسپورټي خدمتونه برابره کړي.
5. **د کمېسیون ټولنیزو پاڼو کې شکایتونه او نیوکې:** د کمېسیون د مشرتابه په غونډه کې پرېکړه وشوه؛ د هېوادوالواوګړو لخوا هر شکایت یا نیوکه چې د کمېسیون په ټولنیزو پاڼو کې کېږي، یواځې دې همغې پاڼې مدیر مسوول او مکلف دی چې د اړوندو څانګو د معلوماتو په اساس ورته ځواب ورکړي. د کمېسیون کارکوونکي حق نه لري چې په انفرادي ډول ورته ځواب ورکړي.
6. **ولسمشرۍ ماڼۍ ته د راپور استول:** د کمېسیون د مشرتابه په غونډه کې پرېکړه وشوه؛ چې د حکمونو په رڼا کې اطلاعاتو ته د لاسرسي کمېسیون د ۱۳۹۹مالي کال راپور چې په دري او پښتو ژبو ژباړل شوی، د یو مکتوب په ملتیا د ا.ا.ج ولسمشرۍ ماڼۍ ته واستوي.

په درنښت

د کمېسیون رییس عین الدین بهادري

د کمېسیون مرستیاله نجیبه مرام

د کمېسیون غړی حمدالله ارباب

د کمېسیون کمېشنره زهرا موسوي